(c) ketabton.com: The Digital Library

گته ورځه اخستلی شو ؟ خوتیجن له دې پوښتنې ځنه بېزاره واونګه علم په حریم کې دا پوښتنه پرځای نه شمیرله .

خوجان دیوي چې تربیتي نظر درلود ، ذهن یې همیشه دروستې پوښتنې لورته ځیرو او تربیتي چارې یې دارواپوهنې پراصولو کې پلټل او په پای کې علمي ارواپوهنې ته متمایل شو . دامطلبونه ددې دوو ښوونځیو ترمنځ بې غتې توپیر وشمیرل شو .

دعمل اصالت ښوونځي پلویان عقیده ولري چې په ټولو طبیعي چارو کې داستمرار حالت وجود لري یانې داستمرار حالت دمحرک او عبرګون ، عکس العمل ، ترمنځ د مقدم او موخر ترمنځ ، دټ وند موجود او جاپیریال ترمنځ او داسې نور .

جان دیوي دبدن او ذهن داپیکو ترمنځ خاص نظرلري او مسأله په تازه رنګ تر بحث لاندې نیسي . د دیوي په طرحه کلاسیک نظریه دثنویت ، دبدن او نفس په هکله له منځه ځي .

ذهني او جسمي تجربې دواړه مني ، خو دهغه د منظمو او ځانګړو حوا دثو په څیر یو له بل ځخه نه بېژني .

دجان دیوي په خیال د احساس او حرکت یا افکارو او اشیاوو ترمنځ واټن وجود نه لري . نو هغسې چې په واقعي توګه د محرک او عکس العمل ترمنځ واټن نه شته ، په همدې توګه دذهن او بدن ترمنځ واټن ته قایل نه و .

کړي چې فرد په آزاده توګه څه چې په خپل ضمیر، وجدان او ذهن کې لري، بیان کړي او په دې ډول وکولای شي د ناراحتیو منبع او ریښه پیدا کړي. فروید په دمغو تجربو یا تمایلاتو چې شاته وهل شوي، د پیدا کولو لپاره وقایع د ورکتوب تر دورې تعقیبوي، ځکه چې هغه په دې عقیده وچې منشأ د ډېرو ناراحتیو چې شاته وهل شوي د ماشومتوب په دوره کې دی.

فروید به د بې نظمیو د منبع د کشف لپاره، د خوبونو د تحلیل او تعبیر له طریقې څخه کار اخیست. هغه په دې باور وچې په خوب کې شاته وهل شوي تمایلات په بله بڼه څرګندیږي. د فروید په نظر د جنسي وقایعو د مطالعې لپاره کولای شو چې له تناکلو نښو او علایمو، څخه استفاده وکړو، هغه به ځینې نښې د جنسي وقایعو وسیله بلله.

فروید عقیده درلوده چې جنسي غریزه لومړی خپلې ته متوجه وي د خپلې خوځول یا حرکت په کوچني کې د لذت سبب ګرځي. بیا وروسته دا تحریکات د بدن د بل محل ته پام ګرځوي او ماشوم د بدن کوم بل څخه خوند اخلي، په تدریج سره جنسي غریزه اشیاو او اشخاصو ته پام ګرځوي په کورنۍ کې ماشوم د پلار او مور له مینې خوند پورته کوي.

لکه چې وویل شو فروید عقیده لري چې د ذهن ناخبره برخه دا شیان په ژوند کې کارنده ونده لري. د هغه په عقیده د ذهن ناخبره برخه موږ د بهرني نړۍ سره مربوطوي او تر یوې اندازې مو پرځیله وضعه ځپروي. خو ډېر قوي عوامل د ذهن یا شعور په ناخبره او آګاه برخه کې دي چې په کړو او افکارو پورې واکمني لري.

